# کاونټرپارټ

COUNTERPART

د کاونټرپارټ انټرنشنل-افغانستان خبرپاڼه

د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت (آیپکس)

ګڼه: ۵

زمری ۱۳۸۶- آګست ۲۰۰۷


## د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز غوره پرمختګ په منظور د دولت او نادولتي مؤسسو د غوره اړیکو کانفرانس




د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز غوره پرمختګ په منظور د دولت او نادولتي مؤسسو د غوره اړیکو دوه ورځنی کانفرانس—کابل- مې ۲۰۰۷ .

د روان کال د مې په ۲۲مه او ۲۳مه نېټه، د کاونټرپارټ او آیپکس پروګرام شریکبانې مؤسسې د پېګټه نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز(ICNL) د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز غوره پرمختګ په منظور د دولت او نادولتي مؤسسو د غوره اړیکو تر نامه لاندې په کابل کې د دوه ورځنی کانفرانس کوربه و. ددغه کانفرانس هدف دا و چې د انجوګانو د قانون په تطبیق کې غوره والی راشي او په دې توګه د غیر دولتي مؤسسو د سکتور او دولت تر منځ اړیکې غښتلې شي.

دغه کانفرانس د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز ، کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې، د افغانستان د اقتصاد وزارت او د انجوګانو د همغږۍ د مؤسسو (اکبر ، اې این سي بي او د افغان ښځو شبکې) په ګډه همکارۍ پلان او دایر شو. د جوړښت له مخې په لومړي سر کې دغه کانفرانس د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز له خوا د ذیدخلو اړخونو په ګډه همکارۍ ددې له پاره پلان شو، چې د خلکو د اړتیاوو له پاره تر ممکنه حده پورې ځواب ویونکی وي. پاتې په دویم مخ کې

## کاونټرپارټ د رسنیو له لارې د ټولنیز جنسیت عدالت ته وده ورکوي



ژورنالستانو ته د ټولنیز جنسیت په اړه د کاونټرپارټ او د سهیلي آسیا د آزادو رسنیو ټولنې (سفما) د عامه پوهاوي کانفرانس– کابل، جولای ۲۰۰۷

کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې او د سهیلي آسیا د آزادو رسنیو ټولنې (سفما) د روان کال د جولای په ۲۷ – ۲۸ نېټه د کابل او ولایتونو څخه ۲۴ تنو ژورنالستانو له پاره یو دوه ورځنی ورکشاپ ترتیب کړ، چې ژورنالستانو ته یې د ټولنیز جنسیت عدالت تیورۍ ور وپېژندله او ددې تر څنګ یې د ټولنیز جنسیت عدالت د ودې او د ټولنیز عدالت په اړه پوهنتو ته چې د رسنیو په ساحه کې مطرح کېږي، د تحقق کولو لپاره عملي لارې چارې وروښودلې.

دغه ورکشاپ د ټولنیز جنسیت له مفهوم، ونډو، اړتیاوو او د ټولنیز جنسیت له مسایلو سره ګډونوال آشنا کړل. همدا راز دوی د ځواک اړیکې، د ټولنیز جنسیت د تحلیل وسیلې او د رسنیو کتنلیک (چیکلیسټ) موضوعات د ټولنې په مختلفو کچو تر بحث لاندې ونیول او دغه شان یې په افغانستان کې د ټولنیز جنسیت اړوند مسایل د نورو هېوادونو له مسایلو سره پرتله کړل.

ګډونوالو دغه ورکشاپ وستایه او دا خبره یې پخه کړه چې په افغانستان کې د ټولنیز جنسیت عدالت او ټولنیز عدالت وده او پرمختګ د رسنیو کلیدي مسؤلیت دی. د ورکشاپ په پایله کې ژورنالستان په دې سره یوه خوله شول چې هره میاشت د ټولنیز جنسیت او میډیا د څارنې او ګډو همکاریو یوه غونډه جوړه کړي، چې تخنیکي مرستې به یې د کاونټرپارټ د جندر څانګې مشاور ورکوي، ددغو غونډو نظرات، لاسته راوړنې او پایلې به د هېواد له رسنیزو خپرونو سره شریکېږي.

## د مدني ټولنې په اړه د راډیویي ډرامو د خپرولو له لارې د افغانستان ټولو پرګنو ته رسېدنه

کاونټرپارټ د ودان کلي ۲۰ قسطه ډرامه ( ۱۰ په پښتو او ۱۰ په دري ژبو) د افغانستان د راډیو تلویزیون له لارې چې د هېواد په هر ولایت کې د نفوسو له ۶۵٪ – ۸۵٪ اورېدونکي لري، خپره کړه. د دانش راډیو به دغه ډرامه یو ځل بیا د ۱۰ اوونیو په اوږدو کې خپروي.

ددغو راډیویي ډرامو د خپرولو هدف دا دی چې عامو افغانانو ته د مدني ټولنې په اړه د پوهاوي زده کړې ورکړي او همدا راز په ولسي او اساسي کچه د مدني ټولنې د پرمختګ په اړه ملاتړ پیاوړی کړي. پاتې په دویم مخ کې

## د سرچینو مرکزونه پایښتیزې پرمختیایي مرستې وړاندې کوي

کاونټرپارټ د ملاتړ له ارتباطي مؤسسو ISOs او د مدني ټولنې د ملاتړ له مرکزونو CSSCs سره یو ځای د روان کال د مې په میاشت کې، د ځانګړو شوو سرچینه یي مرکزونو د تأسیسولو کار په هره یوه شریکبانې مؤسسه کې بشپړ کړ. د سرچینو دغه مرکزونه د ټول افغانستان په کچه د مدني ټولنې د ملاتړ پایښتیز جوړښت لري، چې سیمه ییزو مؤسسو ته د اړتیاوو د ارزونو او د پروپوزل وړاندې کولو په برخه کې تخنیکي مرستې برابروي او همدا راز د غیر دولتي موسسو د ثبت او راجستر، مدافعه (د خلکو پلوي) او د تمویلوونکو ټولنو د مالي مرستو – او دې ته ورته نورو موضوعاتو په اړه سرچینې او معلومات وړاندې کوي. پاتې په دویم مخ کې

## د آیپکس د ټولنیز جنسیت ستراتیژي: د جندر له مخې د په انصاف ولاړي افغان مدني ټولنې پر لور تګ

د روان کال د مارچ له لومړیو څخه کاونټرپارټ د آیپکس پروګرام له پاره د یوې جامع او په آسانه توګه د منل کېدو وړ د ټولنیز جنسیت اصلي مسیر ته د را ګرځولو د ستراتیژۍ د را منځته کولو هلې ځلې کوي. هغه مشاور چې د ټولنیز جنسیت ستراتیژي یې را منځته کړه، د کاونټرپارټ، د کاونټرپارټ د شریکانو ټولنو، ګټې اوچتوونکو او د مدني ټولنې له نورو فعالانو سره یې مفصل بحثونه وکړل، په ستراتیژۍ کې یې ددوی د نظـــراتـــو او سپارښتنو د ور ګډولو غوښتنې او هیلې وکړې. ددغو بحثونو په تعقیب په مې میاشت کې د عملي پلان ورکشاپ او په جون میاشت کې د ذیدخلو اړخونو ورکشاپ دایر شو، چې د اړوندو کارمندانو او مؤسسو د استازو ګډون په دغه برخه کې یقیني کړي او له دوی څخه سپارښتنې او نظرات په دې اړه را ټول کړي. کاونټرپارټ په نږدې راتلونکې کې ددغې ستراتیژۍ وروستي ایډیټ (سمونې) ته نږدې شوی دی او ډېر ژر به یې د خپل پروګرام له ټول تمامیت او کلیت، له خپلو شریکانو ټولنو او نورو هغو ټولنو سره چې په دې اړه یې لېوال دي شریکه کړي.

د ټولنیز جنسیت ستراتیژي زموږ د ټولنیز جنسیت اصلي مسیر ته د راګرځولو په هلو ځلو داسې تمرکز کوي چې د کاونټرپارټ او آیپکس د ټولو شریکانو مؤسسو کارمندانو تــه تخنیکي مرستې برابرې کړي او هم د مربي او ښوونکي خدمتونه وړاندې کړي. د عملـــي پلان د طرح کولو د ورکشاپ په مهال د کاونټرپارټ کارمندانو د ټولنیز جنسیت اصلـــي مسیر ته د راګرځولو د نهایي هدف پربکړه وکړه چې په دې ډول و: " د مدني ټولـــنې مؤسسو ته د سرچینو په لاس کې ورکولو او د مؤسساتي ظرفیتونو د لوړولو له لارې د افغانستان له اوسني حالت سره سم د جندر له مخې په عدل او انصاف ولاړې افغان مدنـــي ټولنې پرمختګ. " دغه ستراتیژي په آیپکس پروګرام کې د ټولنیز جنسیت اصلي مسیر ته په راګرځولو کې اسانتیاوې راولي او په داسې حال کې چې د مدني ټولنې نورو مؤسسو ته هم د یوه لارښود په توګه مرسته کوي چې په افغانستان کې د ټولنیز جنسیت له مخې په عـــدل او انصاف ولاړې ټولنې په را منځته کولو کې کار کوي.

## د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز پرمختګ په منظور د دولت او نادولتي مؤسسو کانفرانس...

د اقتصاد وزارت اداري معین دغه کانفرانس پرانست. د اقتصاد وزارت په معین سر بېره، د ښځو د چارو وزیرې، د پروان والي، د زراعت او مالدارۍ د وزارت معین، د عامې روغتیا د وزارت معین، د مشرانو جرګې یوه تن غړي او همدارنګه د اکبر، د امریکا د متحـده ایالتونو د ماشومانو د خوندیتابه مؤسسې (Save the Children USA)، ابن سینا مؤسســې، د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز او د امریکا د متحده ایالتونو نړیوالې پرمختیایي ادارې (یو ایس آی ډي) استازو خبرې وکړې.

د په ګټه نه ولاړ قانون له پاره نړیوال مرکز بیا د انجوګانو د ریاست د ریس، او د غیـر دولتي موسسو د استازو په ګډون د بحث لړۍ پیل کړه په کوم کې چې د انجوګانو پــه وړاندې ، د انجوګانو په قانون او د انجوګانو د سکتور او دولت تر منځ په اړیکو بحث وشو. د بحث ګډونوالو د حاضرینو پوښتنو ته هم ځوابونه وویل.

په کانفرانس کې د دولت کم تر کمه ۱۰۰ تنو استازو، ګڼو غیر دولتي موســـســـو او مرستندویو ټولنو استازو په شمول ۳۰۰ تنو ګډون کړی و. مهمه یې لا دا چې د هیواد د ۳۴ ولایتونو څخه د اقتصاد وزارت ولایتي کارمندانو په دغه کانفرانس کې ګډون کړی و. دا تر ټولو لومړی کانفرانس و چې د اقتصاد وزارت د پراخې کاري ساحې ډېر شمــــېر مامورین یې په کابل کې په یوه غونډې سره را غونډ کړل.

دغه کانفرانس د دولت او غیر دولتي موسسو تر منځ د یوه رېښتوني بحث زمینه برابـــره کړه، چې په دې توګه د دواړو سکتورونو تر منځ د اعتماد او باور د زیاتــېـدو لامــل وګرځېده. د کانفرانس تر ټولو غوره پرېکړه چې اغېزې به یې اوږدمهالې وي، دا ده چې د غیر دولتي موسسو د همغږۍ د ټولنو له خوا به موجودو ستونزو ته د دولت د مربــوطـه ارګانونو پام ور اړول کېږي، چې په دې توګه به د دواړو سکتورونو تر منځ په مفاهمه کې نور غوره والی هم راولي.

## د مدني ټولنې په اړه د راډیویي ډرامو ....

ددغې ډرامې ۱۰ قسطونه په یوځایې توګه د یوه کلي کیسه بیانوي چې د ویجاړوونکي کورنۍ جګړې او د دوو متخاصمو ډلو تر منځ په سیمه ییزه کچه د تاوتریخوالي منظرکښي کوي، چې نوموړی کلی له دغه حالته د راوتلو هلې ځلې کوي. له یوه پلوه د کلي ځوانان د کلي له ښوونکي څخه اغېز اخلي چې دوی مشترک کار ته هڅوي چې ټولنه یې پرمختګ وکړي. له بلې خوا د کیسې بدوکی (بدمعاش) چې په یوه ډله پورې تړاو لري هېڅ کله نه غواړي چې په اوسني حالت کې بدلون راشي، دا ځکه چې په دغه بدلون کې بیا د دوی امتیازي ژوند ژواک ته خطر پېښېږي. د مدني ټولنې د مؤسسې له لارې کار کول د کلي د پرمختګ له پاره د یوې لارې په توګه وړاندې شوې ده.

## د سرچینو مرکزونه پایښتیزې پرمختیایي مرستې وړاندې کوي...

د روان کال له مې — تر جولای میاشتې پورې ۱۳۲۷ کسانو چې ٪۲۶ یې ښځې وې دغو سرچینه یې مرکزونو ته مراجعه وکړه، چې ځینو یې د ټولنیزو ارزونو، د اړتیاوو ارزونه، د پروژې ډیزاین او د پروپوزل لیکلو، د رسنیو د اړیکو، د جندر (ټولنیز جنسیت) اصلي مسیر ته راګرځولو، مدافعه او حقوقي مسایلو په اړه تخنیکي مرستو د ترلاسه کولو له پاره او په داسې حال کې چې زیاترو یې د کمپیوټر او / یا دا چې د معلوماتو د را غونډولو او څېړنې په موخه له انټرنېټ څخه د کار اخیستلو په اړه د تخنیکي مرستو د ترلاسه کولو له پاره مراجعه کړې وه.

کاونټرپارټ تر دې وړاندې له دغو سرچینه یې مرکزونو څخه محسوسې ګټې لیدلې دي. دغه مرکزونه د آیپکس تر پروګرام لاندې مؤسسو ته او یا هم تر دې ور ها خوا نورو مؤسسو ته یو شان تخنیکي مرستې د پروژو د پلان او طرح کولو په کلیدي برخو کې وړاندې کوي. پر دې سربېره، په ځینو برخو لکه فاریاب ولایت کې د انټرنېټ عام سهولت خلکو ته وړاندې شوی او همدا راز په کندهار ولایت کې چې یواځینۍ ځای دی چې هلته ښځې هم انټرنېټ ته لاس رسي لري، په همدې توګه سلګونه خلکو ته په ځانګړې ډول ښځو ته یې د بهرنۍ نړۍ په اړه د مهمو معلوماتو ته د لاس رسېدنې موکه برابره کړې ده. همدا راز دغه مرکزونه نورې ګټې هم لري. د مثال په توګه د آیپکس د شریکانو مؤسسو دوو ریسانو څرګنده کړه چې د سرچینو د مرکزونو په تأسیس سره یې له دولتي سیمه ییزو مقاماتو سره اړیکې ښې شوې دي، دا په دې چې له دغو مرکزونو څخه دولتي مقامات هم ګټې پورته کوي. همدا راز دوی وویل چې دغو مرکزونو د دوی د مؤسسو او په ټولیزه توګه د نادولتي مؤسسو تصویر غوره ځلولی، دا ځکه چې دوی هغه مهم خدمتونه چې په ټولنه کې یې بل چېرته سارې نه لیدل کېږي خلکو ته وړاندې کوي.



*د آیپکس د سرچینه یې مرکزونو ګټې اوچتوونکي د افغان مدني ټولنې مجتمع په دفتر کې—کابل، آګست ۲۰۰۷.*

## د ټولنې د پرمختیا او مدافعې له پاره بلا عوضه مالي مرستې

کاونټرپارټ په خوښۍ سره اعلانوي چې په تېرو څلورو میاشتو کې یې ۱۳ د ټولنیزې پرمختیا او ۱۱ د مدافعې بلاعوضه مرستو قراردادونه د نوو پروژو د مالي ملاتړ په مخه لاسلیک کړي دي چې ټول ټول ۱۰۵۰۳۴۶ (یو ملیون او پنځوس زره درې سوه شپږ څلوېښت) امریکایي ډالره کېږي. هر پروپوزل (وړاندېز) د بلاعوضه مرستو د ارزونې د کومېټې له دقیقې ارزونې تېر شوی دی. مرسته شوې موسسې په لاندې ډول دي:

## د ټولنې د پرمختیا بلاعوضه مرستې

| ګڼه | د مؤسسې نوم | د پروژې نوم |
|---|---|---|
| ۱ | د شهامت روغتیایي او د بیا رغونې مؤسسه | په کابل ښار کې په کورنۍ او ټولنیزه کچه د مخدره توکو د استعمال مخنیوی، د معتادانو علاج، بیا رغونه او بېرته خپل حال ته د راوستلو پروګرام. |
| ۲ | په افغانستان کې د ابن سینا د عامې روغتیا پروګرام . | د ټولنې خپلخاني مرستې او په لوړ معیار د روغتیا پالنې مرستې برابرول. |
| ۳ | د ده خدای داد شورا | د ده خدای داد د اوسېدونکو لپاره د چاپېریال پاک او سوتره ساتنه کې ښه والی راوستل |
| ۴ | د افغان مدني ټولنې مجتمع | د سولې روغې راوستلو په اړه د عامه پوهاوي د کچې لوړول او د شخړو د تعدیل او تعویض د مهارتونو لېږدول |
| ۵ | باختر پرمختیایي شبکه | د بشپړې او منظمې سکتوري تګلارې له مخې د عامو وګړو د ظرفیتونو لوړول چې په دې توګه یې معیشت تأمین او نور هم ښه شي. |
| ٦ | د افغانستان د بیا رغونې له پاره ګډه همکاري | د ولسي ټولنو ځواکمنول |
| ۷ | د فرهنګ او مدني ټولنې بنسټ | د کلیوالي پرمختیایي شوراګانو د ظرفیتونو لوړول |
| ۸ | د افغانستان د فرهنګي ملاتړ بنسټ | د قرغه یي مرکز له پاره د بریښنايي قوې تولید |
| ۹ | د افغانستان د پرمختیا او بیا رغونې د ګډو همکاریو خدمتونه | د ټولنیزې پرمختیا مکمله پروژه |
| ۱۰ | د د لومړنیو حرفوي زده کړو اداره (BEST) | د قانون زده کړې او د ظرفیتونو د لوړولو پروګرام |
| ۱۱ | د افغانستان د بشري پرمختګ د مرستو اداره (AHDAA) | د ټولنیزې پرمختیا بشپړوونکې پروژه |
| ۱۲ | د افغانستان د پرمختیا خیریه ټولنه (WADAN) | زده کوونکو ته د ټرېننګ ورکولو له مخې د ټولنې پرمختګ |

پر دې سربېره د افغان مدني ټولنې له مجتمع سره یو تړون لاسلیک شو، چې له مخې به یې دوی د مدني ټولنې ۹ مؤسسو ته دویم ځلې بلاعوضه مالي مرستې د ټولنیزې پرمختیا د پروژو له پاره ورکوي، چې دډغو بلاعوضه مرستو ټول ارزښت ۱۰۸۰۲۹ امریکایي ډالره دی.

## د مدافعې بلاعوضه مرستې

| ګڼه | د مؤسسې نوم | د پروژې نوم |
|---|---|---|
| ۱ | د افغانستان د ښځو او ماشومانو له پاره د بشري مرستو مؤسسه (HAWCA) | د ټپن کلي ښوونځی |
| ۲ | د افغانستان ښځې د افغان ښځو له پاره (AWAW) | د کورنیو د ژغورنې مرکز |
| ۳ | د ښځو او ماشومانو د قانوني څېړنو بنسټ (WCLRF) | د هغو دودیزو زیانونو کمول چې ښځو او ماشومانو ته رسېږي |
| ۴ | د لوی کندهار د بیا رغونې مؤسسه (LKRO) | په کندهار ښار کې د سرک پر سر کارکوونکو ماشومانو مرسته |
| ۵ | د مرکزي افغانستان د خیر ښېګڼې کمېټه (CAWC) | د مدني او سیاسي حقونو په اړه د کابل د ٦مې او ۱۳مې ناحیې په جوماتونو کې د مدافعې فعالیت ترسره کول |
| ٦ | د افغانستان د ښوزلو ښځو او نجونو له پاره ښوونیز او روزنیز مرکز (ECW) | مساوي حقونه – د نیکمرغه ژوند پر خوا یوه سمه لاره |
| ۷ | د بلخ د ښځو د حقونو د دفاع انجمن (ADWRB) | د خلکو له پاره قانوني ملاتړ او مرستې |
| ۸ | د افغانستان د فرهنګ او هوساینې بنسټ (CRFA) | د بشري حقونو په اړه د عامه پوهاوي د کچې لوړول |
| ۹ | د افغانستان د بیا رغونې فدراسیون (ARF) | په کاري ساحو کې د ښوونځي د نجونو او هلکانو د کمې ونډې په اړه مدافعه |
| ۱۰ | د نوي افغانستان د ښځو اتحادیه (NAWA) | د پروژې نوم: د تلویزیوني پروګرامونو له لارې د فردي حقونو، په ځانګړې توګه د ښځو د حقونو، معرفي کول |
| ۱۱ | د افغانستان د هوساینې او پرمختګ اتحادیه (WADAN) | په اسلام کې د ښځو حقونه |

# ژوندۍ کیسه

## حکومتي رسنۍ په دې خبره موافقې دي چې د قانون په چوکاټ کې د ستونزو د هوارې له پاره ګډې هلې ځلې وکړي

د مدني ټولنې د پرمختګ په موخه کاونټرپارټ له دولتي او آزادو رسنیو سره کار کوي.



ښاغلی بشیر احمد شبیر په خپل دفتر کې
لیکنه: محمد حلیم فدایي—تصویر: محمدالله کمال

په افغانستان کې د مدني ټولنې او د غیر دولتی سکتور په اړه د عامو وګړو برخورد د ملاتړ او کرکې تر منځ په نوسان کې دی. د افغان مدني ټولنې د پیاوړتیا نوښت (آیپکس) پروګرام چې د کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې له خوا په افغانستان کې تطبیقیږي، ډېر شمېر میتودونه په کار اچولې چې عام وګړي په غوره توګه د مدني ټولنې په ارزښت وپوهوي او په واضحه توګه څرګنده کړي چې د افغانستان په راتلونکي پرمختګ کې مدني ټولنه ستره ونډه لوبولی شي.

کاونټرپارټ نړیوالې مؤسسې د افغانستان د اطلاعات او فرهنګ د وزارت په ګډه همکارۍ یو ورکشاپ جوړ چې د اطلاعات او فرهنګ وزارت د ٦٨ ولایتي ریسانو په شمول ۱۰۰ تنو په کې برخه واخیسته. ددغه ورکشاپ هدف د دولتي رسنیو او د مدني ټولنې د مؤسسو تر منځ د مفاهمې په بهیر کې غوره والي راوستل وو، چې په دې توګه د ګډو همکاریو روحیه را ژوندۍ او د یو او بل لورې په غوره توګه سره وپیژني او د یو بل پر وړاندې مثبت چلند په راتلونکي کې ولري.

ښاغلی بشیر احمد شبیر، د باختر آژانس عمومي ریس چې په دغه ورکشاپ کې یې ګډون کړی و څرګنده کړه چې دغه ورکشاپ د باختر آژانس په کار ډېرې مثبتې اغېزې لرلې دي. ښاغلی شبیر چې ۴۲ کلن دی په ریاضیاتو او فزیک کې د ماستري تحصیلي درجه لري او همدا راز یې د پروژې په اداره، د اقتصاد او ټولنیز پلان او سرشمېرنې په برخو کې په اسلام آباد کې د آسیا د مطالعاتو په مرکز کې زده کړې کړې دي.

باختر آژانس له نن څخه کابو ٦٨ کاله وړاندې تأسیس شوی چې اوسمهال د کابل په مرکزي دفتر کې ۱۲٦ تنه کارمندان لري او همدا راز د افغانستان په ۳۳ ولایتونو کې ۳۳ تنه ریپورټران او استازي لري. باختر آژانس هره ورځ له ۸۰ — ۹۰ تازه خبرونه، ریپورټونه او مرکې د ولایتونو، د ولسمشر د دفترونو او د ولسمشر د مرستیالانو له دفترونو او له نورو دولتي او غیر دولتي ارګانونو له مراجعو څخه اخلي او خپروي یې.

په دغه ورکشاپ کې له ګډون کولو وړاندې، د باختر آژانس د ریپورټرانو او استازو په وړاندې تر ټولو ستره ستونزه دا وه چې دوی یا خو د مدني ټولنې د مؤسسو د فعالیت او د افغانستان په پرمختګ یې د ونډې او رول په اړه مطمین نه وو او یا هم په اړه یې ناسم پوه شوي وو.

ښاغلي شبیر، وروسته له هغې چې په دغه ورکشاپ کې یې ګډون وکړ، وویل: "ټول ګډونوال په دغه ورکشاپ کې له ګډون کولو وروسته د مدني ټولنې د مؤسسو په اړه وپوهېدل، فعالیتونو یې پوه شول او ورته جوته شوه چې څه ډول کار کوي. دغه ورکشاپ له موږ سره مرسته وکړه چې د غیر دولتي مؤسسو او د مدني ټولنې د مؤسسو په اړه زموږ شکونه له زړونو څخه وباسي. د ټولو له پاره ډېره مهمه خبره دا وه چې د دولت، خصوصي سکتور او د مدني ټولنې د مؤسسو په اړه مو هر اړخیز او ژور معلومات ترلاسه کړل."

ښاغلي شبیر زیاته کړه: "تر ټولو مهمه زده کړه چې له دغه ورکشاپ څخه مې ترلاسه کړه هغه د مدني ټولنې د مؤسسو او دولتي رسنیو تر منځ د مفاهمې له پاره د عملي لارو چارو ابتکار و."

د باختر آژانس کارمندان چې د آیپکس په دغه ورکشاپ کې یې د ګډون کولو له امله ژور معلومات ترلاسه کړل، دوی یې ددې وړ ثابت کړل چې تر ډېره حده مؤثق خبرونه وړاندې کړي. ښاغلي شبیر په دې اړه وویل: "د پرمختګ د مختلفو فعالانو لکه د غیر دولتي مؤسسو، د ملګرو ملتونو د ادارو، د ولایتي بیا رغونې د ټیمونو، قراردادیانو، کمپنیو او شرکتونو تر منځ په توپیرونو له پوهېدو وروسته، موږ په دې وتوانېدو چې کره، په انصاف ولاړ او بېطرفانه ریپورټونه وړاندې کړو، چې په دې توګه هغه ناسمې انګېرنې چې د معلوماتو د نشتوالي له امله را پورته شوې وې، په نوموړو خبرونو او ریپورټونو کې توضیح کوو." همدا راز ښاغلي شبیر زیاته کړه چې د دولت د استازو او د مدني ټولنې د رسنیو د استازو په یوه غونډې را ټولول په دغه ورکشاپ کې ددې لامل وګرځېد چې د پالیسۍ په کچه هغه ناسمې انګېرنې چې موجودې وې له منځه یو وړل شي.

"موږ وړاندیزوو چې د مدني ټولنې د مؤسسو په ځانګړي توګه د نادولتي مؤسسو پر خلاف دې ټول منفي تبلیغات له یوې منځې ودرول شي. ټولې لانجې، پریشانۍ او ستونزې دې دنا دولتي مؤسسو د قانون، د ټولنیزو او کلتوري ټولنو د قانون، د ډله ییزو رسنیو د قانون په چوکاټ کې د ډیالوګ او اغېزمنې مفاهمې له لارې هوارې کړې شي."

"مشترکه اعلامیه"